پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۲/۰۳/۲۰

پر خوشحال باندې دې قدر دی نوروزه

خوشحال پوهنه

اشعار

۴۴

ما د نوي کال او نوروز د هرکلي په پاره تر اوسه د خوشحال له کلیاتو او پسرلنیو اشعارو نه څو ځلې استفاده کړې ده او د همدې ورځې په پار مې د ده اشعار انلاین کړي دي. د تېرو کلونو د نوي کال په مناسبت چې ما د خوشحال بابا کوم اشعار درنو لوستونکو ته وړاندې کړې دي، د هغو ځینې بیتونه دا دي:

د نوروز منت په باغ دی په صحرا هم
نوراني یې شي له فیضه هغه، دا هم

چې په باغ کې رنګارنګ ګلونه وا شي
غنیمت ده د ګلونو تماشا هم

لخلخې د نوبهار په هر مشام ځي
ګلدستې یې څنډوي پیر و برنا هم

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۴۰۹ ام مخ)

*****

څو په باغ کې لا یو ګل د نوبهار شته
د بلبلو د توتیانو پرې چغار شته

نن دې غم له ما نه ځان ساتې که ښه کا
چې په سیل د بهار راسره یار شته

چې له یاره سره مست د ګلو ګشت کړم
محتسب که را نږدې شي پایزار شته

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

(د خوشال کلیات، د زاهد مشوانې اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۱۸۰ مخ)

د خوشحال خټک غوندې فرهنګي ـ سیاسي شخصیت هېڅکله نه هېرېږي، ځکه چې ده د خپلو افکارو او اثارو په ترڅ کې د خپل وخت د ژوند پر ډېرو اړخونو رڼا اچولې ده، د همدې لپاره خوشحال خان خټک ته د خپل وخت د سیاست، ادب او په ټول کې د فرهنګ رڼه هینداره ویلای شو.

دا ځل یې ما د کلیاتو د غزلونو له برخې څخه د نوي کال له پاره د ده داسې یو غزل انتخاب کړی دی چې د نوي کال او نوروروز خبرې په کې شوې دي:

بـــر ـ بـــر رایشـه نـــوروزه دل افـروزه
ستا په وخـت مې اسوده شي ستـرګې پـوزه

ستا پـه وخـت ستـرګې د بـاغ ګلـونه ګوري
پـوزه هـم کـانـدي د بـوي خـوښي انـدوزه

غوږ لا هم ستـا له طـفیله حـظ حاصل کا
مـغـنـي شـي عـنـدلـیـب پـه څو ـ څو سـوزه

پـه وصال د مـعشـوقې عـاشق فـیـروز شي
د ګلـزار پـه وخـت بـلـبـلـه وي فـیـروزه

خپل غوږونه ورته څک کړه ګوندې واورې
راز د مـیـنـې د بـلـبـلـو لـه للوزه

د نـوروز لـه فـیـضـه بـوټـي خالي نـه وي
فـیـض یـې رسي هـم ترسپاندې هم ترځوزه

کـه هـمـه عـمـر د بـاغ ګـلـونـه ګـورم
زمـا خـوا بـه پـرې سـړه نـه شي هنوزه

د بـهـار هـوا هـرګـوره ښـه هـوا ده
کـه افـت ورپـسي تـه نـه وي تـمـوزه

پـه راتـلـه ورلـره ډېرې خوښۍ راوړې
پـر خـوشـحال بـانـدې دې قدر دی نوروزه

(د خوشال کلیات، د زاهد مشوانې اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۱۴۰ مخ)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ